HEALTH COMPLAINTS COMMISSIONER





# شکایت کړل

پشتو | Pashto

د خوندی او اخلاقی روغتیایی پاملرنه څخه ملاتړ

د زیاتو مالوماتو لپاره او یا د شکایتونو فورمه د ډکولو لپاره د **hcc.vic.gov.au** نه لیدنه وکړی.

**1300 582 113** ته د سهار 9 بجو تر ماَښام 5 بجو پوری د خپل شکایت په هکله د خبرو کولو لپاره زنګ ووهی.

HEALTH COMPLAINTS COMMISSIONER

# شکایت کړل

تاسی حق لری چه د خوندی، با کیفیته روغتیایی خدمتونو ته لاسرسی او له درناوی وړ چلند درسره وشی. که ستاسی سره داسی چلند ونشی او خپله اندیښنه مو څرګنده کړه دا به ستاسی حقوق وساتی او هم به د ویکتوریایانو روغتیایی سیستم ته وده ورکړی.



# زه د څه شي په هکله شکایت کولای شم؟

هغه مسایل چه تاسی شکایت ترینه کولای شی:

- درملنه چه د قناعت وړ نوی
- د شامليدو او د معرفی کولو ستونزی
- ضعيفه مکالمه (خبری)
- د درناوی او محرمیت نشتوالی
- غفلت او غير مسلکی چلند
- د روغتیایی مالوماتو سره ناوړه چلند

تاسی کولای شی چه د ویکتوریا د هر روغتیایی خدمتونو برابروونکی په اړه شکایت وکړی. دا شامل دی په عامه او خصوصی روغتونونه، د ټولنی روغتیایی خدمتونه، ثبت شوی برابروونکی لکه داکتران او د غاښونو داکتر او هم غير ثبت شوی لکه مشاورين او د بديلو معالجو برابروونکی وی.

تاسی همداشان کولای شی د هر هغه چا سره چه ستاسی روغتیایی مالومات ورسره وی شکایت وکړی، شامل د غیر روغتیایی برابروونکی لکه ښوونځی او سپورتی کلپونه، چه څرنګه دا مالومات دوی تنظیم کوی.

# زه څرنګه شکایت وکړم؟

لومړی ګام به دا وی چه د خپلو اندیښنو په هکله د برابروونکی سره خبری وکړی. که دغه کار دا موضوع حل نکړه او یا تاسی فکر کوی چه نشوی کولای هغوی ته مراجعه وکړی، نو زمونږ نه مرسته وغواړی.

هر څوک کولای شی زمونږ سره انلاین، د تیلفون له لاری او یا هم حضوری خپل شکایت درج کړی. که تاسی د بل چا په وکالت شکایت کوی، تاسی باید د دوی موافقت لومړی تر لاسه کړی.

# بیا به څه پیښیږی؟

مونږ ستاسی او د برابروونکی سره د شکایت د چټک، منصفانه او موثر حل د لاری لپاره کار کوو.

مونږ کولای شو چه ستاسی سره مرسته وکړو:

- څرګندونه وکړو چه څه پیش شول
- بخښنه
- درملنی ته لاسرسی
- اسنادو ته لاسرسی
- د خساره جبران او بیرته ورکول (ریفند)
- د پالیسی اویا په تګلاره کښی بدلون چه د راتلونکو ستونزو مخه ونیسی

مونږ کولای شو رسمی تحقیقات پیل کړو او خلکو ته د خطرناک روغتیایی برابروونکو په هکله خبرداری ورکړو.

زمونږ خدمتونه وړیا، محرم او بیطرفانه دی.

**زمونږ سره تماس**

د زیاتو مالوماتو لپاره او یا د شکایتونو فورمه د ډکولو لپاره د **hcc.vic.gov.au** نه لیدنه وکړی.

**1300 582 113** ته د سهار 9 بجو تر ماَښام 5 بجو پوری د خپل شکایت په هکله د خبرو کولو لپاره زنګ ووهی.

مونږ ته ولیکی او یا خپله راشی په
Level 26, 570 Bourke Street, Melbourne Victoria 3000

کاڼه، په اوریدلو کی ستونزی او یا د خبری کړلو مشکلات لری؟ **relayservice.gov.au**

ترجمان ته اړتیا شته؟
د ترجمانی د دفتر نمبر TIS National: **131 450**

دا مالومات عمومی دی او موخه یی حقوقی مشوره نده